# کوم اساسي قانون

## د منلو وړ دئ؟

## د طالبانو

## که د اوسني حکومت؟

حکمتیار

# کوم اساسي قانون
# د منلو وړ دئ
# د طالبان که
# د اوسني حکومت

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

اوس مهال افغانانو ته درې اساسي قوانین وړاندي شوي: د کابل د حکومت اساسي قانون، د طالبانو د اسلامي امارت دستور او د اسلامي دولت اساسي قانون، په کار ده چي دا قوانین په دقیقه توګه وڅېړل شي، د اسلامي شریعت په رڼا کي سره مقایسه شي، هغه قانون د هېواد لپاره غوره شي چي له قرآن او سنت سره مطابقت لري، د یوې واقعي اسلامي ټولني د جوړېدو ضمانت کولی شي، په هغه سره یو خپلواك او آزاد اسلامي هېواد جوړېدی شي، د اقتدار پر سر د شخړو او جګړو مخنیوی کېدی شي او د استبدادي او مطلق العنانو حکومتونو د رامنځته کېدو امکانات له منځه تلی شي. موږ ټولو سیاسي او مذهبي مشرانو، علماوو، پوهانو، لیکوالانو او زړه سواندو دعاتو او مصلحینو ته بلنه ورکوو چي راشئ د هېواد د بحران د ختمولو لپاره د حل داسي اساسي لار ولټوو چي جګړه د تل لپاره پای ته ورسوي، ډاډمن او تلپاتې امنیت تضمین کړي، اجتماعي عدالت تأمین کړي او د اقتدار ترلاسه کولو لپاره د مسلحانه رقابتونو امکانات

د تل لپاره له منځه یوسي، له دې وروسته نه زموږ په هېواد کې خپلمنځي مسلحانه رقابتونه وي او نه له یوه لاس نه بل ته د اقتدار د انتقال پر سر یوه قطره وینه توی شي او یوه مرمۍ ووېشتل شي. په همدې موخه مو د اسلامي دولت اساسي قانون خپور کړ او په همدې موخه دلته د کابل د اسلامي جمهوریت او د طالبانو د اسلامي امارت پر اساسي قوانینو دا تحلیلي بحث وړاندي کوو او د دغو قوانینو اساسي نواقص په گوته کوو، امید دئ لومړی د اسلامي دولت اساسي قانون مطالعه کړئ او بیا د دې تحلیلي بحث له لوستلو وروسته د دغو دریو قوانینو ترمنځ قضاوت وکړئ.

حکمتیار

۱۳۸٦\۸\۳

# د کابل حکومت
# د اساسي قانون ستر عیبونه

افغانانو ته معلومه ده چي د کابل د امریکایي حکومت د اساسي قانون مسوده د امریکایانو په هدایت او لارښوونه او د هغه کمیسیون له لوري ترتیب شوې چي د دوی په خوښه جوړ شوی وو. دا په حقیقت کي د شاهي منحط رژیم د اساسي قانون یوه داسي کاپي ده چي د پاچا په ځای د جمهور رئیس کلمه پکي راغلې، ځیني مادې ئې مخکي وروسته شوې، صدراعظم حذف شوی او د هغه اختیارات هم جمهور رئیس ته انتقال شوي. دا قانون نه یوازي د محتوی له پلوه بې شمېره ستونزي لري بلکي له ادبي پلوه هم ډېر بې خونده دی او بې شمېره رکاکتونه لري. د امریکایي حکومت اساسي قانون نه یوازي له اسلامي معیارونو سره تعارض لري او زموږ د هېواد له حالت او د ولس له اړتیاوو او غوښتنو سره اړخ نه لگوي بلکي د غربي ډیموکراسۍ له غوښتنو او د غرب د بشري حقوقو له معیارونو سره هم مغایرت لري.

جدي او ترټولو لويي ستونزي ئې دا دي:

- د کابل د امريکايي حکومت د اساسي قانون تر ټولو لويه نقيصه دا ده چي د هېواد د قوانينو مأخذ او مرجع ئې مبهم او گونگه پرېښې ده، يوازي دا ويل شوي چي: "په افغانستان کي هيڅ قانون نشي نافذېدلی چي د اسلام د سپېڅلي دين او په دې اساسي قانون کي د راغلو ارزښتونو مخالف وي"، په ابتدائي مسوده کي اسلامي شريعت د مصدر په توگه معرفي شوی وو خو د امريکا د سفير په امر دا ماده حذف شوه او په ځای ئې دغه مطلب وليکل شو.

هرڅوك پوهېږي چي د دې دواړو ترمنځ څومره ژور توپير شته، په دې هم هرڅوك پوهېږي چي دغه مطلب هم د ولس د غولولو لپاره ليکل شوی، دا خو پرېږده چي دا اوس د امريکايانو ترسلطې لاندي افغانستان کي په دفترونو، بانکونو، هوټلونو، راډيو، ټلويزيون، ورځپاڼو او د دولت په ټولو برخو کي څومره د اسلام ضد او مخالف کارونه روان دي!! په خپله دا اساسي قانون او هغه نظام چي دا قانون ئې وړاندي کوي له اسلام سره مغايرت لري.

- په دې قانون کي ندي ليکل شوي چي په افغانستان کي بهرني ځواکونه نه اډې درلودی شي، نه محبسونه، نه نشراتي او تبليغاتي مراکز او نه تعليمي مؤسسات. په داسي حال کي چي د دوی شته والی هم له اسلام سره مغايرت لري او هم زموږ له استقلال، خپلواکي او ملي

حاکمیت سره تصادم کوي او دا پداسي حال کې چي د نړۍ د اکثرو څپلواکو ملکونو په اساسي قوانینو کې دا مطلب په څرګندو او قاطع الفاظو لیکل شوی.

- کوم نظام چي دا اساسي قانون ئې وړاندي کوي د هغه شوری دوه جرګې لري، د مشرانو جرګه او ولسي جرګه، د دوو جرګو نظام اصلاً د لومړي ځل لپاره د هغې انګریز ډوله دیموکراسۍ له لوري معرفي شو چي د پانګوال نظام حامي ده، د کابل اساسي قانون له غربیانو تقلید کړی او د امریکا او انګلستان په څېر د دوو جرګو جوړول غواړي، یوه د عوامو شوری او بله د اشرافو او خواصو شوری ، د (ولسي جرګې او مشرانو جرګې) په نامه، دا دوه جرګې په پانګوالو نظامونو کې په اصل کې د دې لپاره رامنځته شوې چي د (عوامو شوری) د (خواصو د جرګې) په واسطه مهار کړي او ولس ته د اقتدار د انتقال مخه ونیسي. په افغانستان کې نه داسي دوو بېلو بېلو جرګو ته ضرورت شته او نه زموږ مالي امکانات هومره دي چي په داسي جرګو مصرف شي. افغانستان یوې شوری، یوه مشر، یوه حکومت او یوې وړې ادارې ته ضرورت لري، امکانات ئې د پېچلو او پراخو ادارو په ځای باید د هېواد په ودانولو او د بې وزلو هېوادوالو د ستونزو په حلولو مصرف شي. دا اوس د کابل جمهور رئیس د وزیرانو او مشاور وزیرانو یوه لویه رمه لري، شمېر ئې د چین او هند تر کابینو هم زیات دئ، د هر

يوه کالنی مصارف او امتیازات دومره دي چي د یوې ولسوالۍ سړکونه پرې رغېدی شي!!
نادره خبره لا دا ده چي په دې قانون کي جمهور رئیس ته د دې حق ورکړی شوی چي د مشرانو جرگي درېیمه برخه غړي په خپله خوښه انتصاب کړي، دا اوس د دې جرگي رئیس غیر منتخب دئ، معاون ئې داسي څوك دئ چي د ولسي جرگې په انتخاباتو کي ناکام شوی. په غرب کي هم داسي نظام نه ترسترگو کېږي چي جمهور رئیس ته د انتصابي غړو د ټاکلو دومره فوق العاده صلاحیت ورکړي!!
د انتخاباتو داسي غلطه او د عدالت مغایر طریقه وړاندي کوي چي د قمار په څېر ده، له څو کاندیدانو نه یو هغه کس پارلمان ته ځي چي تر نورو ئې څو رأیي زیاتي ترلاسه کړې وي، کېدی شي د ناکامو کاندیدانو مجموعی رأیي تر کامیاب کاندید نه زیاتي وي. چا چي ناکامو کاندیدانو ته رأیه ورکړې په پارلمان کي ممثل او استازی نه لري. په دې ترتیب پارلمان د یوه اقلیت ممثل وي نه د اکثریت او نه د ټول ملت. د افغانستان د اوسنۍ ولسي جرگې غړي هغه دي چي جمعاً د افغان ولس ۲۰% کي رأیه ورکړې.

- دا انتخابات د شتمنو او په ټولني د حاکمې طبقې سلطې ته قانوني جواز برابروي، یوازي شتمن کسان کولی شي په دې انتخاباتو کي برخه واخلي او مصارف ئې متحمل شي، په ټولو هغو ملکونو کي چي دا راز انتخابات ترسره کېږي، له نادارې طبقې نه هیڅوك د پارلمان غړیتوب

نه شي ترلاسه کولی، اکثر غړي ئې د جګي طبقې او ډېر کم ئې د متوسطي طبقې څخه وي. په انګرېز ډوله پارلماني نظام کي انتخابات په اصل کي د حاکم او مسلط سیاسي او اجتماعي نظام د بقا او هغه ته د مشروعیت ورکولو وسیله وي. په سیاسی، اقتصادي او اجتماعي لحاظ مسلطه طبقه له دې لاري پارلمان ته لار مومي. تاسو ولیدل چي امریکایانو لومړی افغانستان اشغال کړ، په بن کي ئې جمهور رئیس او وزیران ورته وټاکل، بیا ئې انتخابات ورته وکړل او همغه په بن کي ټاکل شوې څېرې ئې د منتخبو غړو په نامه ونومول، که داسي نه وی نو شایي د کابل د اوسني حکومت ډېرو چارواکو او منتخبو غړو به له خپلي ولسوالۍ هم دومره رأيي نه وی ترلاسه کړې چي د ولسي جرګې غړیتوب ئې په برخه شي.

- په دې اساسي قانون کي دا وضاحت ندی شوی چي هر افغان به د مکلفیت عسکري دوره تېروي، د امریکایانو په حکم د داسي فوځ جوړولو لپاره لار پرانستل شوې چي د معاش په مقابل کي به استخدامېږي، روزنه او تجهیز به ئې د پردیو په لاس ترسره کېږي، او دا هغه کار دئ چي انګریزانو په خپلو مستعمراتو کي وکړ، همداسي فوځونه ئې جوړ کړل او له وتلو وروسته ئې قدرت دوی ته وسپارو، د دوی لاس پوځي حکومتونه له دې عاجز ول چي دا فوځونه په خپلو شته امکاناتو وپالي، مجبور ول چي بیا هم د دغو فوځونو د معاش

لپاره په لندن پوري تړلي وي، هر افغان پوهېږي چي افغانستان دومره مالي امکانات نلري چي د فوځ او پولیس نږدې دوه لکه منسوبین د کافي معاش په مقابل کې استخدام کړي، که داسي فوځ جوړوي نو تل به د همدې فوځ د معاش لپاره پردیو ته لاس اوږدوي او پردي به په هغه صورت څه ورکوي چي دا فوځ د دوی د ګټو لپاره حتی له خپل ولس سره جنګ ته تیار وي، دا دئ په خپلو سترګو ګورو چي امریکایان د دې دولت اجیر فوځ او پولیس د افغان ولس په ضد جنګوي، د پاکستان فوځي مشرانو ته په وزیرستان کې د جنګ امر کوي او هغوی له ځنډه پرته په مظلومو قبایلو او د دوی پر کلیو، کورونو، ښارونو او جوماتونو بمونه وروي. پاکستان له خپلو ټولو زیاتو امکاناتو سره اوس هم د فوځي لګښتونو لپاره د امریکا پر مرستو تکیه کوي.

آیا د عراق او افغانستان تجربې کافي نه دي چي لدغو فوځونو هیڅ طمعه ونلرو؟ مګر د افغانستان فوځ د روسانو ملګرتیا ونه کړه؟ د عراق هغه مجهز فوځ چي په داخلي جګړو کې ډېر توریالی وو د امریکایانو د تېري په وړاندي ئې څه وکړل؟ څو اونۍ ئې هم مقاومت ونه شو کړی، د فلوجي د اسلامي مقاومت د یوه وړوکي ټولګي په اندازه ئې هم نه مقاومت وکړی شو او نه ئې دښمن ته تلفات واړولی شو!! لداسي فوځونو هیڅ نه جوړېږي، باید په ملت

حساب وشي، باید ټول ولس دفاع ته چمتو کړی شي، هغه مصارف چي په داسي اجیر فوځ کېږي باید د ولس د ستونزو په آوارولو او د یوه ستر ملي فوځ په جوړولو ولګول شي.

په نظام کي د ملي اردو څرنګوالی او په ټولنې کي د هغه رول باید دقیقاً او د ټولنې د موقعیت او وضعیت له مخي مشخص شي. د افغانستان شرائط داسي دی چي د لاندي مشخصاتو اردو ته اړ یو:

١. په خپلو ذاتي امکاناتو متکي محدود اردو، دومره چي په خپله ئې اکمال کړی شو.

٢. د اردو د اکمال په اړه باید پردیو ته له لاس اوږدولو نه ډډه وشي. د پردیو په مرستو جوړ شوی اردو یا د پردیو په خدمت کي وي، یا د پردیو شرائطو منلو ته اړ کېږي او یا په حساس وخت کي خپل شته والی له لاسه ورکوي.

٣. په اردو زیاته تکیه نه ده په کار، ملت باید دفاع ته تیار کړو، د دفاع په کار کي باید ټول ملت برخه واخلي. باید دمکلفیت د دورې په اساس اردو جوړ کړو.

٤. اجیر اردو نه د افغانستان د شرائطو لپاره مناسب دی او نه ئې د اکمال توان لري.

٥. غربپال عناصر د امریکایانو او انګرېزانو په مرسته د اردو روزنه او اکمال غواړي، خو وموليدو چي دا اردو د امریکایانو تر قومندې

لاندي د ملت په خلاف وجنګول شو. شمالي ټلواله د اردو د اکمال لپاره مسکو ته لاس ملن اوږدوی، په داسي حال کي چي وموليدو د روسانو په لاس روزل شوی اردو د ملت په ضد وجنګول شو. موږ دعراق په سويه اردو نه شو جوړولی، خو وموليدو چي دې اردو د امريکا د بريد په وړاندي څومره او څو ورځي مقاومت وکړ او دا څوك وو چي د يرغلګرو په ضد وجنګېدل، اردو که ولس؟ دا بايد زموږ او نورو لپاره لارښووونکې تجربه وي.

- په دې اساسي قانون کي د انتخاباتو عمليه ډېره پېچلې، غېرعادلانه او د زياتو لګښتونو غوښتونکې ده، هم له دولت نه د پراخو مصارفو غوښتنه کوي او هم له کانديدانو نه، لږ ترلږه بايد څلور ځلي انتخابات ترسره شي چي جمهور رئيس، د ولسي جرګې غړي، د مشرانو جرګې غړي، د ولايتي او ولسواليو جرګو غړي وټاکل شي، په دې کي رأيه يوه شخص ته ورکول کېږي او اکثراً په رقابتونو ولاړ او يو د بل د پرځولو لپاره وي، مخکني رقابتونه مزيد تشديد کړي، رأی ورکوونکي دې ته له پامه پرته يوه کس ته رأيه ورکوي چي هغه څنګه حزب او څنګي تګلاري ته متعهد دئ، که بريالی شي نو ملګري او همکاران به ئې څوك وي، څنګه خلك به پر ولس مسلط کوي؟ د چا او د کومو تګلارو ملاتړ به کوي؟

د انتخاباتي حوزو ټاکل هم له زياتو ستونزو سره توأم وي، هر څوك د دې هڅه کوي چي د ده د پلويانو په سيمي کي د انتخاباتي حوزو شمېر زيات وي چي په همدې تناسب ئې په جرگې کي د پلويانو شمېر زيات شي.

دا طريقه په پارلمان کي د رقابتونو، د آراءو پېر پلور او د امتيازاتو ترلاسه کولو لپاره له يوې ډلي بلي ته د تلو راتلو لار پرانېزی او پارلمان د شخړو په ميدان بدلوي.

د انتخاباتو تر ټولو آسانه، مصئونه ، عادلانه او کم مصرفه طريقه دا ده چي:

- ټول افغانستان يوه انتخاباتي حوزه ومنل شي او دا مسئله د تل لپاره منتفي شي چي د نفوس له مخې او يا د اداري واحدونو په اساس دي انتخاباتې حوزې وټاکل شي.
- هر افغان په هر ځای کي رأيه ورکړی شي ، په دې مکلف نه وي چي يوازي په خاصي انتخاباتي حوزې کي رأيه ورکولی شي.
- رأيه يوازي يوه شخص او د هغه معاون ته نه بلکي د کانديد شوو کسانو مجموعي پلان، منصوبې، تگلاري او د دوی له لوري د مجلس لپاره غوره شوو کسانو ته ورکړی شي. يعني څوك چي د جمهوری رياست لپاره کانديد کېږي هغه يوازي يو داسي شخص نه دی چي د اقتدار لاس ته راوړو لپاره په خپل سر او يوازي ميدان ته

راوتلی، بلکې هغه د یوې ډلې له خوا کاندید شوی، دا ډله کېدی شي یو حزب وي او یا یوه ائتلافي جبهه او یا یوه انتخاباتي مجموعه او د خاص کاندید ملاتړي، دا مجموعه به د ټول هېواد او دهېواد د ادارې لپاره واضح منصوبه او کافي باکفایته پرسونل معرفي کوي، د جمهوري ریاست لپاره د دوی کاندید باید ملت ته ووایي چې تګلاره ئې څه ده او د هري انتخاباتي حوزې لپاره څوك اهل ګڼي. په دې سره ولس دا موقع ترلاسه کوي چې د خاصې تګلارې خاوند او د دې مجموعې ته رأیه ورکړي.

- له انتخاباتو نه وروسته هره انتخاباتي مجموعه د خپلو ترلاسه کړو آراوو په تناسب د خپل اعلان شوي لست له لومړیو کسانو نه مجلس ته غړي لېږي، کومې مجموعې چې مثلاً ۳۰% آراء ترلاسه کړل، د دوی د لست له لومړیو نومونو نه به د مجلس د غړو دېرش په سلو کې غوره کېږي او چا چې تر دې کم یا زیات ترلاسه کړل د خپلو آراوو په تناسب به له خپل لست نه غړي معرفي کوي.
- په ځینو هېوادونو کې دې طریقې ته ورته انتخابات ترسره کېږي، ښه والی ئې په دې کې دی چې:

۱. انتخابات یو ځل وي او د څو ځله رأیې اخستنې، بې ځایه مصرف او د ولس له بې ځایه لالهانده کولو نه ډډه کېږي.

۲. د محلي رقابتونو مخنیوی کېږي.

۳. منتخب استازی ځان د خاصي سیمي او ولس وکیل نه بلکه د ټول ملت استازی ګڼي، په مجلس کې په ملي ګټو او مصالحو تأکید کوي نه د مؤکلینو د خوشحالولو لپاره خاصي سیمي ته د امتیازاتو ترلاسه کولو لپاره.

٤. هره رأیه چي صندوق ته لوېږي اعتبار او وزن لري او په مجلس کې ممثل او استازی لري. داسي نه وي چي ځیني خلك ناکام کاندید ته د رأیې په ورکولو سره په مجلس کې د استازي او وکیل له درلودو محروم شي.

٥. په دې طریقې کې د ټولنې له اقلیتونو سره عادلانه چلند کېږي او د اقلیت او اکثریت معضله نه راپور ته کېږي.

٦. په دې کې د انتخاباتي حلقو د تثبیت ضرورت هم منتفي کېږي، هر افغان په هر ځای کې رأیه ورکولی شي.

٧. هره مجموعه هڅه کوي چي تر ټولو صالح کسان د کاندیدانو په لست کې معرفي کړی تر څو د ملت باور او اعتماد ترلاسه کړي.

٨. انتخابات د بډایانو او فیوډالانو له ولګې باسي او د دربیمې او متوسطې طبقې غوره او صالح کسانو ته هم لار پرانېزي.

- په دې قانون کې بهرنیو هېوادونو ته دا حق ورکړی شوی چي زموږ په هېواد کې تعلیمي مؤسسات جوړ کړي، چي دا نه یوازي له اسلام سره شدید تعارض لري، بلکي د پردیو فرهنګي او کلتوري یرغل ته لار

پرانیزي، د دې یرغل پایلي تر نظامي یرغل ډېري خطرناکي دي، دا له خپل هېواد او د افغان ولس له ځوان نسل سره تر ټولو ستره جفا ده چي یرغلګرو ته داسي امکانات په لاس کي ورکړی شي، ایران موږ دې ته نه پرېښودو چي د خپلو مهاجرینو لپاره هلته مدرسې جوړې کړو، خو اوس ایران ته د دې اجازه ورکړی شوې چي په کابل که د شیعه مذهبي مشرانو لپاره د پوهنتون په کچه ستر تعلیمي مراکز جوړ کړي. ایران دې ته اجازه نه ورکوي چي د تهران سني اوسېدونکي مستقل جومات ولري، خو په افغانستان کي د کابل امریکائي حکومت ایرانیانو ته په پراخ لاس د تکایاوو، زیارتونو او جوماتونو د جوړولو اجازه ورکړې.

د افغانستان تعلیمي نظام باید داسي وي چي:

۱. د افغان ولس په معتقداتو ولاړ وي، په غېږ کي ئې باایمانه، باهمته، سرلوړي او وطنپال زده کوونکي وروزل شي.

۲. په هېواد کي باید یوازي یو تعلیمی نظام رائج وي نه مختلف تعلیمي نظامونه او نصابونه. مختلف نصابونه او مختلف تعلیمی نظامونه د شخړو او اختلاف باعث ګرځي او د ملا او مکتبي جنګ راولاړوي.

۳. مدرسه او مکتب باید سره مدغم شي.

٤. تر دولسم پورې باید نصاب داسي وي چي هر زده کونکی هم

کافي او ضروري ديني زده کړه وکولی شي او هم له نورو ضروري علومو څخه کافي زېرمه ترلاسه کړی شي. داسي چي په اختصاصي دوره کي هم ډاکټر او انجنير د دين په ټولو ضروري مسائلو پوه وي او هم قاضي او امام په ټولو ضروري انساني علومو مجهز وي.

۵. له دولسم نه وروسته بايد د تخصص دوره پيل شي، ځيني په ديني او شرعي علومو کي تخصص ترلاسه کړي او ځيني د طب، انجنيري، ساينس او نورو علومو په برخه کي.

۶. هيڅ بهرني غير اسلامي هېواد ته په افغانستان کي د تعليمي مراکزو د پرانستلو اجازه ورنکړی شي، اسلامي هېوادونه په دې شرط دا کار وکړی شي چي د هېواد رسمي تعليمي نصاب به پلي کوي او موږ ته به متقابلاً د همداسي کار اجازه راکوي.؟

● د دې قانون په اړه وروستۍ خبره دا ده چي ځيني ډلي مخصوصاً شمالي ټلواله غواړي په دې کي تعديل راشي او د رياستي نظام په ځای پارلماني نظام ومنل شي. دې ته مو بايد پام وي چي پارلماني نظام د بريتانيائي استعمار ميراث دی او د بريتانيا له خوا د دوی په مستعمراتو کي رائج شوی او رياستي نظام امريکايانو معرفي کړی او دې ته ترجيح ورکوي چي په خپلو مستعمراتو کي دا نظام وګوري. دا دواړه نظامونه نه يوازي له دې ناحيې د اعتراض وړ او مردود دي چي د استعماري ځواکونو زېږنده دي بلکي له دې پلوه هم چي بې شمېره

عيبونه او نواقص لري، کوم رياستي نظام چي د کابل په اساسي قانون کي ښودل شوی، د هغه اساسي عيبونه او نواقص مو مخکي په ګوته کړل د پارلماني نظام په اړه دلته دومره څه وبل ضروري ګڼو چي دا له اسلام سره هيڅ اړخ نه لګوي، په اسلام کي د دوو متوازنو واکدارانو تصور مردود ګڼل شوی، تجربو ښودلې چي دا نظام يوازي په هغه صورت کي څه نا څه چلېدی شي چي د انګلستان په څېر يوه تشريفاتي ملکه ولري او يا د هند په څېر ابوالکلام ته ورته يو بې واکه جمهور رئيس.

د دې نظام بل ستر عيب دا دئ چي د هېواد صدراعظم د محدودو کسانو له خوا غوره کېږي، د محدودو کسانو اخستل ډېر آسانه وي، هم ئې بهرني ځواکونه په آسانۍ اخستی شي او هم هغه ډلي چي مالي امکانات ئې زيات وي او شتمن بهرني حاميان ولري. دا د افغانستان په شان يوه ملك ته چي له هري خوا د ځواکمنو رقيبانو په ولګه کي دی له احتياط نه ډېر لرې دی چي د هېواد د مشر ټاکل په يوه محدود ټولګي پورې وتړل شي. که د هېواد د مشر ټاکل په ټول ملت پورې مربوط وي دا تر دې ډېر ډېر مصئون دی چي د پارلمان څو سوه غړو ته دا صلاحيت ورکړی شي.

دا هم بايد ياده کړو چي ځيني کړۍ په افغانستان کي د فيدرالي نظام راوستل غواړي، امريکايانو هم دوی ته شين څراغ ښودلی، هر

بادرده او باشعوره افغان په دې پوهېږي چي فيدرالي نظام د افغانستان په موجوده ظروفو کې د هېواد له تجزيې پرته بله نتيجه نه لري، د يوه قوی نظام او ځواکمن اردو په نشتوالي کې له فيدرالي نظام سره توافق په اصل کې د هېواد له تجزيې او وېش سره توافق دی. هيڅ با احساسه او وطنپال افغان د فيدرالي نظام خبره نه کوي، مشبوه او مشکوکي کړی د پرديو په وينا دا خبره کوي. هدف ئې د نورو هېوادو په ګټه د افغانستان وېش دی نه ولاياتو ته د متناسب او مناسب واك او صلاحيت لېږدول. که څوك د ايران په وينا او شيعه وو ته د بېل فيدرالي حکومت د جوړولو خبره کوي نو هغوی ته وايو چي دا کار بايد په ايران کې هم وشي، هلته هم بايد مظلومو بلوڅانو، کردانو، ترکمنانو، آذريانو، عربانو، لوردانو او نورو ته بېل بېل فيدرالي حکومتونه جوړ شي، هلته قدرت ټول د شيعه فارسيانو په لاس کې دئ، په ټول نظام کې له سنيانو نه حتی د مدير په کچه هم څوك ندئ نيول شوی. بيا خو بايد دغه موجود سرحدات چي د انګرېزانو له لوري پر دې سيمي تپل شوي او په نتيجه کې ئې پښتانه او بلوڅان په دريو دريو برخو او کردان په څلور برخو وېشل شوي، له منځه ولاړ شي.

# د طالبانو
# د اساسي قانون نواقص

• د طالبانو اساسي قانون په دې جملو پيل شوی: د هر ملك او حكومت لپاره اساسي قانون يا په بل عبارت "اساسي اصول"، "اساس نامه" يا "دستور" ډېر عظمت او اهميت لري. او په پيروي كولو يې ډير ټينگار كېږي. خو د يو واقعي اسلامي مملكت او اسلامي حكومت اساسي قانون او نور ټول قوانين او مقررات بايد د اسلامي شريعت سره په پوره تطابق كې وي. بناءً اميرالمؤمنين د ١٤١٩ هـ ق كال د صفر المظفر د مياشتي د ٢٥ نېټې په اتلسمه گڼه فرمان كې ويلي وه چي په هيواد كې د شرعي نظم د ټينگښت په خاطر د هيواد ټول قوانين او مقررات دې د ستری محكمې په مشرۍ د علماؤ له نظر څخه تير كړی شي. غير شرعي او غير مذهبي مادې دې څني حذف شي...

يوه هوښيار لوستونكي ته دغه پورتنۍ جملې كفايت كوي چي پوه شي دا ليكنه له ادبي او علمي لحاظه څومره ستونزي لري، دا مقدمه نه يوازي د يوه اساسي قانون له مقدمې سره نه ښايي بلكې د يوه عادي مقالې له سريزي سره هم مناسبه نه برېښي.

په مقدمه کې اعتراف شوی چې د امارت اساسي قانون په مخکنیو قوانینو کې د معمولي او مختصر تعدیل او تصرف له لارې او د هغوی د غیراسلامي مادو د حذفولو په نتیجه کې ترتیب شوی، که لږ دقت وکړئ نو وبه ګورئ چې دا قانون په اصل کې د شاهي منحط او غیراسلامي نظام د اساسي قانون یوه داسې نسخه ده چې معمولي تجدید نظر پکې شوی او ځیني مادې ئې تعدیل یا حذف شوې. کاش دوی خپل اساسي قانون د کوم ادیب او په اسلامي شریعت پوه کس له نظره تېر کړی وی، د یوه غیراسلامي منحط نظام اساسي قانون هیڅکله په معمولي تعدیل سره د اسلامي نظام لپاره اساسي قانون نشي جوړېدی.

د دې اساسي قانون ستر ستر نواقص په دې توګه دي:

- په دې اساسي قانون کې امارت او حکومت بېل بېل ښودل شوي، د حکومت لپاره بېل رئیس په نظر کې نیول شوی چې هغه به د وزیرانو د شورى رئیس وي، همغسي لکه د شاهي رژیم اساسي قانون چې پاچا او صدراعظم لري، دلته د پاچا په ځای د امیرالمؤمنین نوم راغلی!! هر په دین پوه انسان په دې پوهېږي چې د نظام په سر کې د دوو زعماوو تصور هیڅ شرعي مبنا نه لري. په اسلامي نظام کې امیرالمؤمنین د اجرائیه قوې مشر وي، دا یو بدعت دی چې امیرالمؤمنین او لارښود بېل وي او د حکومت مشر او زعیم بېل. دا شاهي او هغو جمهوري

نظامونو ته ورته دئ چي له پاچا او جمهور رئیس نه علاوه صدراعظم هم لري. لکه د انګلستان او پاکستان نظامونه. د راشدینو خلفاوو په دوران کې امیرالمؤمنین هم زعیم وو او هم د حکومت او دولت مشر.

دوی په اصل کې له انګرېز ډوله پارلماني نظام نه تقلید کړی، په دي نظام کې صلاحیتونه د صدراعظم او جمهور رئیس تر منځ په یوه تناسب وېشل کېږي، دا له یوې خوا د دوو ځواکمنو تر منځ د تنافس او سیالۍ ډګر پرانېزي، له بلي خوا د تشکیلاتو د تراکم باعث کېږي او له بلي خوا په عام ولس کې د شخړو او منازعاتو باعث. زموږ د ګاونډیو هېوادو تجربې زموږ مخې ته پرتې دي. په پاکستان کې انګرېزانو دا نظام په میراث پرېښود، خو تر اوسه یوه صدر اعظم هم خپله قانوني دوره تکمیل نه کړی شوه، کله جمهور رئیس هغه عزل کړی او کله ځواکمنو جنرالانو. په ایران کې هم د پارلماني نظام تجربه ناکامه شوه، ایرانیانو د انقلاب په لومړیو کلونو کې د رهبر او جمهور رئیس تر څنګ صدراعظم هم درلود، خو وروسته مجبور شول چي د صدراعظم منصب حذف کړي. خو عجیبه دا ده چي په همدې ایران پورې تړلې ډلي اوس د تهران په وینا په افغانستان کې پارلماني نظام غواړي!! پارلماني نظام د انګلستان د ملکې په څېر یوې تشریفاتي ملکې یا پاچا ته ضرورت لري، له دې پرته نه شي چلېدی. یوه ټولنه که وړه وي که ستره، که د یوې کورنۍ په اندازه وي او که د یوه ستر ملت په

اندازه، په سر کې باید یو قیم او رئیس ولري نه متعدد رئیسان له خاصو صلاحتونو سره، دا حتماً په نزاع او شخړو منتج کېږي. قرآن وایي: که د کائناتو واگې د دوو خدایانو په لاس کې وی نو تباه کېدو او هر یوه به هځه کوله چې عرش ته ورسېږي او په بل بر لاسی شي.

په اسلامي نظام کې خلیفه چې د ټول ولس له خوا غوره کېږي، د ولس په استازیتوب د ټولو دولتي چارو مسئول دی. د خلفاء راشدینو په دوران کې موږ نه د خلیفه ترڅنگ د صدر اعظم مثال موندلی شو او نه د دوو چارواکو تر منځ د قدرت د وېش مثال.. په دې اساس په ټول جرأت سره ویلی شو چې هغه نظام له اسلام سره اړخ نه لگوي چې د نظام په سر کې دوه باصلاحیته چارواکي د صدراعظم او جمهور رئیس په نامه ولري او قدرت د دوی تر منځ په یوه خاص تناسب ووېشل شي.. داسي نظام نه یوازي له اسلام سره اړخ نه لگوي، بلکي په ټولو هېوادونو کې ئې بدې پایلې درلودلې او د عدم ثبات باعث او د چارواکو او ولس ترمنځ د شخړو او سیالۍ موجب گرځېدلې. د طالبانو په تېر نظام کې هم تاسو ولیدل چې د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر او د وزیرانو د شورى رئیس ملا رباني تر منځ شدید اختلافات راولاړ شول، د اسامه بن لادن په ارتباط خو ئې اختلاف دومره حاد او شدید شو چې د کابل د شورى رئیس د هغو علماوو غونډه په کابل کې جوړه کړه چې ملا محمد عمر آخوند ته ئې د امیرالمؤمنین لقب ورکړ، دې

غونډي د اسامه د ایستلو فیصله وکړه، فیصله ئې د رسنیو له لارې اعلان شوه، خو امیرالمؤمنین د دوی پرېکړه ویتو کړه، یوه د سعودي له چارواکو سره ژمنه وکړه چې اسامه درسپارو، ترکی الفیصل په همدې موخه په خپلې خاصې الوتکې کې کندهار ته ولاړ، څو ورځې ئې هلته انتظار وکړ، خو له کندهاره ئې منفي ځواب واورېدو او تش لاس بېرته وګرځېدو,

له اسلام سره هغه نظام اړخ لګوي چې ولسمشر ئې د ولس له خوا غوره شي، د چارو واګې د ده په لاس کې وي، خو په خوا کې ئې داسې ځواکمنه او باصلاحیته شورى وي چې د ټول ملت استازيتوب کوي، په شورى مکلف وي، د شورى پرېکړو ته التزام ولري، قدرت او صلاحیت او په ملت پورې مربوط وسایل او امکانات امانت وګڼي او د شورى له پرېکړو سره سم په هغه کې تصرف وکړي، په شخصي ژوند او له ملي شتمنیو نه په استفادې کې له هیڅ مسلمان نه هیڅ امتیاز ونه لري، هیڅ څه له مشورې پرته ونه کړي.

- د دې اساسي قانون بل لوی عیب او نقیصه دا ده چې امیر ئې د شاهي رژیمونو په څېر داسې دائم العمر ټولواک ټاکلی چې د ژوند ترپایه او په هرصورت کې امیر دئ، نه ئې د نصبولو مرجع معلومه ده او نه ئې د عزلولو، راتلونکی امیر هم د ده په وصیت غوره کېږي، په دې قانون کې دا نه مومو چې د هېواد لومړی امیرالمؤمنین به څنګه او

د چا لخوا غوره کوي؟ داسي معلومېږي چي دا امیر به د دوی امیرالمؤمنین وي او د جنگ له لاري به مسلط کېږي!! داسي رأیه یوازي هغه څوك ورکولی شي چي نه په شریعت پوه وي، نه له خدایه وېرېږي او نه د مسلمانانو د وینو د توئېدو پروا لري!! د اسلام له نظره چا چي د مسلمان په ضد وسله راوایسته که بل هم ووژني دوزخ ته ځي او که په خپله هم ووژل شي ځای ئې دوزخ دی، څوك چي د اقتدار لاس ته راوړو لپاره د مسلمانانو په ضد وسله کاروي مباح الدم دئ، له هر مسلمان نه د اسلام غوښتنه دا ده چي: مه ظلم کوئ او مه ظلم ته تسلیمېږئ، د هیچا زور او ځواك ته غاړه مه ږدئ، د زور او جبر حکومت مه منئ، چا چي ستاسو په ضد وسله راوایسته او تاسو ئې دې ته اړ کولی چي د فلان کس زعامت ومنئ د هغه په ضد داسي وجنگېږئ لکه د ببرك، ترکي او نجیب په ضد چي وجنگېدئ او نن د کابل د امریکایي حکومت په ضد چي جنگېږئ، که ووژل شوئ ځای مو جنت دئ او که هغه ووژل شو ځای ئې جهنم دئ.

د اسلام له نظره د لومړي مشر د انتخاب طریقه همغه ده چي د ابوبکر رضي الله عنه د انتخاب په اړه صحابه وو غوره کړه، چي د مدینې ټول خلك د سقیفه بني ساعده له غونډې وروسته په جومات کې راغونډ شول، د ابوبکر رضي الله عنه وینا ئې واورېده، دئ ئې د امارت لپاره تر ټولو غوره وموندو، بیعت ئې ورسره وکړ او د دوی له

بیعت نه وروسته هغه د امیرالمؤمنین په توګه وټاکل شو، که څوک مسلمان وي نو د امیر د انتخاب لپاره به دغه طریقه غوره کوي، نه د جنګ او د وسلې د استعمال طریقه. اوس چې په یوه جومات کې د ټولو مسلمانانو راغونډېدا ممکن نده، دا ځکه چې شمېر ئې زیات دئ او د مدینې د مسلمانانو په اندازه نه دي چې په یوه جومات کې ځائیدل، له دوی نه د پوښتنې له لارې به امیر غوره کېږي او دا هم هغه کار دئ چې د عثمان رضي اللّٰه عنه د انتخاب پر مهال وشو.

د امیر د نصب او عزل په اړه او دا چې دا واك د کومې مرجع په لاس کې دئ، د طالبانو اساسي قانون هیڅ وضاحت نلري، اصولاً کومه مرجع چې د نصب واك لري د عزل حق هم لري، څوك چې د عقد واك لري د حل او فسخ واك هم لري، مسلمانان هم د خپل امیر د ټاکلو حق لري او هم ئې د عزل کولو، لکه څنګه چې د صحابه وو د دور په خپل منځیو جګړو استدلال صحیح ندی، همداراز په هغو لنډو کلونو کې د کوم خلیفه په عدم عزل استناد صحیح ندی، ځکه له یوې خوا له خلفاوو نه درې په شهادت ورسېدل او له بلې خوا موږ د دوی په څېر متقي او متفق علیهم شخصیتونه نشو موندلی او له بلې خوا د امارت لپاره موده ټاکل او د عزل لپاره موجبات او مرجع مشخص کول یو ضروري او د شخړو او جګړو د مخنیوي لپاره یو اغېزمن کار دئ، دا کار په دې دلیل ناجائز نشو ګڼلی چې صحابه وو

ونکړ، دا ځکه چي له يوې خوا هلته د عزل موجبات نه وو رامنځته شوي او له بلي خوا د شريعت له مخي ناجائز کار هغه دی چي شريعت د صريح نص په استناد ناجائز ګڼلی وي، لکه څنګه چي د سفر په دوران کي د امير د انتخاب او عزل واك ګډ سفر کوونکو ته ورکړی شوی او لکه څنګه چي د جومات امامت د لمونځ کوونکو په رضايت پوري مشروط شوی همداراز د امير نصب و عزل د ولس حق دی.

بايد داسي مرجع وي چي که د کوم شخص امارت متنازع فيه شو او ځينو خلکو هغه د عزلولو مستحق ګڼلو، په ده کي ئې د امارت د دوام کفايت او اهليت نه ليدلو نو هغي مرجع ته مراجعه وکړي، خپل دلايل وړاندي کړي، پرېکړي ته ئې انتظار وکړي او د وسلې اخستلو او وسله وال پاڅون او بغاوت لار غوره نکړي. بايد د عثمان رضي الله عنه او د علي رضي الله عنه د شهادت دردناك حوادث بيا تکرار نشي او د جمل جګړي ته خبره ونه رسېږي، که د صحابه وو رضي الله عنهم په شان د سترو سترو شخصيتونو په دوران کي په دې موضوع داسي شخړي راولاړېدی شوې نو زموږ په څېر ضعيفو انسانانو کي خو د دې ډېر احتمال شته. دا چي صحابه وو کوم اميرالمؤمنين ندئ عزل کړی، پدې د دائم العمر امارت په ګټه استناد کول صحيح ندی، دا ځکه چي هلته د عزل موجبات ندي رامنځته

شوي، محدود شمېر کسانو عثمان رضي الله عنه د عزل وړ ګڼلو او د هغه په ضد ئې بغاوت وکړ او هغه ئې په شهادت ورسولو، د علي رضي الله عنه په اړه هم دې ته ورته اقدام وشو، هيڅ فقيه او عالم د دغو دواړو خلفاوو په ضد بغاوتونه جائز او مشروع قيامونه نه ګڼي.

- د طالبانو په اساسي قانون کي دا ندي ويل شوي چي ولس د امير په ټاکلو کي څه حق او څه وجيبه لري؟ د امارت دنده د چا له لوري چا ته سپارل کېږي؟ د امارت د اهل تشخيص د چا کار دئ؟ آيا د ولس له بيعت او رضايت نه پرته د چا امارت شرعي مجوز لري؟ آيا د زور او جبر امارت جائز دی؟ امير په جومات کي او د عوامو په خوښه ټاکل کېږي که په قصرونو کي او د تړلو دروازو تر شا د خواصو لخوا؟ ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم ولې په جومات کي د ټولو لمونځ کوونکو له بيعت نه وروسته د اميرالمؤمنين په توګه غوره شول؟

- د دوی اساسي قانون دې پوښتني ته ځواب نلري چي که د امارت لپاره د نومول شوو شمېر له يوه زيات وي، نو د دوی له منځ نه به يو څنګه غوره کېږي؟ د زور او جنګ له لاري که د ولس رأيي ته د مراجعې له لاري؟ د عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه تر منځ د يوه انتخاب څنګه ترسره شو؟ آيا عبدالرحمن بن عوف د مدينې له خلکو نه د دريو ورځو پوښتنو او ګروېږنو نه وروسته په جومات کي دا خبره اعلان نه کړه چي د مديني اکثريت د عثمان رضي الله عنه امارت

خوښوي، زه هغه د امارت لپاره اعلانوم، آيا تاسو ئې منئ؟ خلکو توافق وکړ او له بيعت نه وروسته هغه د خليفه په توګه غوره شو، دا بهير موږ ته څه وايي؟ آيا د اميرالمؤمنين علي رضي الله عنه په خلاف د مخالفينو مسلح پاڅون د شريعت مطابق کار وو که هغه کار چي په ترڅ کي ئې عثمان رضي الله عنه د رأی پوښتني له لاري غوره شو او له بيعت نه وروسته اميرالمؤمنين شو؟

- د طالبانو په اساسي قانون کي دا نه دي ويل شوي چي په اسلامي نظام کي شورى بنيادي اهميت لري، امير د شورى له لاري غوره کېږي او له ولس سره په شورى مکلف دئ، هغه امير چي په دې اصل عمل ونکړي واجب العزل دئ، په اسلام کي د مطلق العنان زعيم تصور مردود دئ، دا د فرعوني نظام ځانګړتيا ګڼي، دا د خلافت نه بلکي د ملوکيت خصوصيت بولي، پيغمبر عليه السلام ټولي مهمي پرېکړي په جومات کي او له مسلمانانو سره په مشوره کړې دي، د احد، بدر او خندق په څېر د جګړو پرېکړه نه يوازي د مسلمانانو له مشورې وروسته شوې بلکي پيغمبر عليه السلام تر هغه وروستى تصميم ندئ نيولى چي ټولو توافق ندى کړئ، که څوک د پيغمبر عليه السلام امتي وي او د هغه مبارك په سنت عمل کول غواړي نو بايد مشورې ته همدومره اهميت ورکړي، يوه کس ته مطلق العنان واك سپارل په اسلامي شريعت کي هيڅ مجال نلري، دې ته مو بايد پام وي چي کله

د مسلمانانو شمېر زيات شو نو پيغمبر عليه السلام لدوی نه وغوښتل چي خپل استازي ورمعرفي کړي، دا استازي د نقباء په نامه يادېدل او دا پيغمبر عليه السلام په خپله نه غوره کول بلکي ولس ته ئې ويل چي تاسو ئې رامعرفي کړئ، دا په حقيقت کي د ولس منتخب استازي ول.

ډېر ناپوه او غرضي انسان به په زور امارت ترلاسه کول داسي گڼي لکه د قريشو په ضد د پيغمبر عليه السلام جنگ، دا ډېر قبيح استناد او کرکجن قياس دئ، علماء دې ته قياس مع الفارق وايي، د قريشو په ضد جنگ د کافر او مشرك په ضد جنگ وو نه د امارت ترلاسه کولو لپاره د مسلمان په ضد جنگ!! پيغمبر عليه السلام مدينې ته په جنگ نه دئ داخل شوئ، د مدينې منورې د مسلمانانو په خوښه او بلنه داخل شوی او دا ننوتل هم هغه وخت چي له ده سره ئې د حج په موسم کي په منی کي بيعت وکړ او دا بيعت هم د دوی د استازو (نقباوو) په واسطه ترسره شو!!

بخاري ليکي: ( النقباء ) جمع نقيب وهو عريف القوم وناظرهم والمراد الذين اختارهم الأوس والخزرج نقباء عليهم بطلب من النبي صلى الله عليه وسلم وأقرهم على ذلك ( ليلة العقبة ) الليلة التي بايع فيها صلى الله عليه وسلم الذين آمنوا من الأوس والخزرج على النصرة: نقباء د نقيب جمع دئ چي د قوم پېژندوی او ناظر ته وايي او دلته مراد ترې هغه خلك دي چي د عقبة په هغه شپه د اوس او خزرج له

لوري د پيغمبر عليه السلام په غوښتنه غوره شول چي له رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم سره ئې د ده د ملگرتيا اوملاتړ بيعت وکړ.

په دې روايت کې گورئ چي د مدينې خلکو له پيغمبر عليه السلام سره د خپلو استازو په ذريعه بيعت کړی، که پيغمبر عليه السلام مدينې ته چي وروسته د مسلمانانو دارالخلافه ترې جوړ شو د خلکو په خوښه او د دوی له بيعت نه وروسته داخل شوی نو ته ځنگه ځان ته حق ورکوې چي کابل ته د خلکو له خوښي پرته او د جگړي له لاري په دې موخه داخل شې چي خپله خوښه او د خپلي خوښي زعيم په زور پرې تحميل کړې. ځوك چي دا کار کوي د عمر رضي اللّٰه عنه هغه وينا دي په غوږ کې ولري چي د سقيفه بنی ساعده په غونډي کې ئې وکړه: فمن بايع أميرا عن غير مشورة المسلمين فلا بيعة له ولا بيعة للذي بايعه تغرة أن يقتلا: که ځوك د مسلمانانو له مشورې پرته له کوم امير سره بيعت وکړي نه د ده بيعت ارزښت لري او نه د هغه چا چي بيعت ئې ورسره کړی، د دې وېره شته چي دواړه ووژل شي.

د عمر رضي اللّٰه عنه دا وينا ډېر پرېکنده او قاطع حجت دئ د هغه چا په ضد چي د ټولو مسلمانانو له موافقې او مشورې پرته د ځو کسانو بيعت د امارت لپاره کافي گڼي، دا يوازې د درباري مفتيانو رأيه کېدی شي نه په دين د يوه پوه انسان رأيه. دا رأيه د سلاطينو په

خدمت کې بوختو مفتیانو هغه مهال ورکړه چې د امیر انتخاب له جومات نه قصرونو ته او له عوامو نه درباري خواصو ته انتقال شو او په نتیجه کې ئې امارت اموي او عباسي شو، موروثي او خانداني شو او یزید امیرالمؤمنین شو.

- په دې قانون کې هر څه بل قانون ته محول شوي، په داسي حال کې چې هغه قانون هم نه دی په ګوته شوی، دا کار هغه څوك کوي چې خپله خبره په واضح توګه نشي کولی، د ویلو لپاره معقول څه په واك کې نلري، نو وايي: ټول ښه کارونه به کوو، خلکو ته به د قانون په رڼا کې آزادي ورکوو، ټولو قومونو ته به د قانون مطابق خپل حقوق ورکول کېږي او دې ته ورته خبري چې د غولوونکو شعارونو په څېر دي. د اساسي قانون معنی خو دا ده چې د نورو ټولو قوانینو لپاره اساسي او بنسټیز بنیادونه وټاکي، د ټولو مقرراتو لپاره مرجع وي، اساسي خبري په ګوته کړي، که داسي نه وي او په هره ماده کې ولیکل شي چې دا او هغه کار به د قانون مطابق ترسره کېږي بیا خو یوازې یوه ماده کافي ده او هغه دا چې ولیکل شي: په هېواد کې به ټول کارونه د قانون مطابق ترسره کېږي والسلام
- د قرآن په دوو آیتونو کې د اسلامي نظام په هکله څو داسې اساسي لارښوونې شوې چې که په ټول قرآن کې یوازې همدا آیتونه راغلي وی نو د دې نظام د معرفي لپاره کافي وو، د اسلامي دولت په اساسي

قانون کې د قرآن دغه لارښووني باید په واضحو الفاظو ذکر شي. آیتونه دا دي:
إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا * يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا * النساء: ۵۸- ۵۹

یقیناً چې الله تاسو ته د دې امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چې د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چې الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصیحت کوي، یقیناً چې الله بصیر اورېدونکی دی. اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پېغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کې مو په خپلو کې شخړه وکړه، نو الله او پېغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت په ورځ ایمان لرئ، دا ډېر غوره دی او د پایلې له لحاظه ډېر ښایسته.

په دې آیتونو کې لاندې مطالب راغلي:

۱- الله تعالی ټول اسلامي امت ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپاري. خطاب عام او ټولو مسلمانانو ته متوجه دئ او ښيي چې دا د ټولو مؤمنانو دنده او وجیبه ده نه د کوم خاص ټولګي.

۲- دلته له امانت نه مراد د واکمنۍ او اقتدار امانت دی، که څه هم د امانت معنی عامه هم کېدی شي او په هر مادي او معنوي امانت ئې هم اطلاق کېدی شي.

۳- د اسلام له نظره اقتدار یو امانت دی او د اقتدار خاوند د خلکو د امانتونو یو امین.

۴- دا (امانت) به د مسلمانانو لخوا هغه چا ته سپارل کېږي چې (اهلیت) ئې ولري. او دا د ټول اسلامي امت مأموریت او الهي فریضه ده چې د اقتدار امانت او په هغه پورې مربوط ټول امانتونه به داسې چا ته سپاري چې د دې وړتیا او اهلیت په کې وي.

۵- چا ته چې د امارت او واکمنۍ امانت وسپارل شي، هغه به په دې امانت کې د یوه امین په څېر تصرف کوي، نه د یوه مطلق العنان حاکم په څېر.

۶- دا د امانتونو امین په دې مکلف دی چې د خلکو ترمنځ به ئې هر قضاوت پر عدالت ولاړ وي.

۷- که د دې امین (امیر) او د امانت د اصلي خاوندانو (خلکو) ترمنځ په کوم څه کې اختلاف راولاړ شي، نو منازعه به د الله کتاب او د رسول سنت ته راجع کېږي، وروستۍ پرېکړه به د قرآن او سنت له مخې کېږي.

۸- د قانون په وړاندې ټول برابر دي، هیڅوک دا حق نلري چې ځان

له قانون نه اوچت وګڼي، قانون ځان ته تابع او ځان د وروستۍ پرېکړې وروستۍ مرجع وګرځوي.

له دغو مبارکو آیتونو نه لاندې خبرې معلومېږي:

اسلام د امير انتخاب هم د مسلمانانو وجيبه ګڼي او هم ئې حق. د خلکو لخوا (ښکاره) او (پخپله خوښه) بيعت ئې د امارت لپاره شرط ګرځولى. له يوې خوا خلکو ته ويل شوي چې امانت اهل ته وسپارئ، له بلې خوا چارواکو ته ويل شوي چې د خلکو ترمنځ په عدالت حکم کوئ او ټولو ته ئې ويلي چې منازعات مو الله او د هغه رسول ته محول کړئ.

- متأسفانه ځيني خلك د بيعت يادونه کوي پرته لدې چې پوه شي بيعت څه ته وايي، د امير له ټاکلو مخکې ترسره کېږي که وروسته؟!! حقيقت دا دئ چې له امير سره د خلکو بيعت داسې نه دی چې لومړی به هغه له کومې بلې لارې امير کېږي او بيا به خلك د بيعت شکلي مراسم د دې لپاره ترسره کوي چې د ده په وړاندې د خپل اطاعت ښکارندونه وکړي، خبره داسې نه بلکې برعکس ده، دا بيعت دی چې په هغه سره څوك امير کېدی شي، تر څو چې خلك له چا سره بيعت ونه کړي امارت ئې نه شي مسلم کېدی، امير هغه دی چې خلك ورسره بيعت وکړي، له بيعت نه پرته مسلط شوی واکمن يو جابر او غاصب حاکم دی.

ابوبکر رضي الله عنه هغه مهال امیر شو چې خلکو په جومات کې له ده سره بیعت وکړ، عمر رضي الله عنه له هغه وروسته امیر شو چې د خلکو بیعت ئې ترلاسه کړ، د ابوبکر رضي الله عنه لخوا څخه د ده انتخاب یوازې یو وړاندیز وو، هغه ولس ته د عمر رضي الله عنه د غوره کولو وړاندیز وکړ او خلکو قبول کړ. عمر رضي الله عنه له شهادت نه مخکې اوه کسان د دې لپاره غوره کړل چې له خپل منځ نه یو کس انتخاب کړي او بیا دغه کس د بیعت لپاره ولس ته معرفي شي. د ابوبکر رضي الله عنه نومونه داسي وه لکه د عمر رضي الله عنه له لوري د شپږو کسانو نومونه، که دغو شپږو کسانو ته شپږ امیران نشو ویلی، همداراز د خلکو له بیعت نه مخکې عمر رضي الله عنه ته د امیر خطاب نشو کیدی.

د عثمان رضي الله عنه انتخاب داسې ترسره شو چې لومړی عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د ده او د علي رضي الله عنه په هکله، د مدینې له خلکو نه، د ښځو په شمول، تر درېو ورځو مسلسل پوښتنې وکړې، د دوی رأیه ئې ځان ته معلومه کړه، په جومات کې ئې دا خبره اعلان کړه چې د مدینې زیاتره خلك د عثمان رضي الله عنه په امارت راضي دي، زه له دوی دواړو نه تاسو ته عثمان رضي الله عنه غوره کوم، خلکو توافق وکړ، بیعت ترسره شو او له دې وروسته عثمان رضي الله عنه خلیفه شو، د ده له شهادت نه وروسته علي رضي

الله عنه په جومات کې او له بیعت نه وروسته خلیفه شو. دا بهیر مونږ ته ښیي چې بیعت د امارت لپاره شرط دی، یوازې له بیعت نه وروسته څوك امیر کېدی شي نه له بیعت نه مخکې.

له دې بهیر نه دا هم معلومېږي چې بیعت څرګند کار دی نه پټ، د عامو خلکو کار دی نه د خاصو، په جومات کې تر سره شوی نه په کوم قصر کې، ټول هغه خلك په کې برخه اخیستی شي چې جومات ته ئې په راتلو بندیز نشته.

د پیغمبر علیه السلام سنت او د اصحابو رضي الله عنهم منهج ته په پام سره ویلی شو چې:

۱- د یوې غیراسلامي ټولنې په سیاسي حاکم نظام کې به له برخې اخیستو ډډه کوو، حتی که د دې نظام ریاست هم مونږ ته ومنلی شي. پدې نامسلمانې ټولنې کې د انتخاباتو له لارې د تبدیلي راوستو او قدرت ته د رسېدو هڅه به نه کوو، دا ځکه چې پیغمبر علیه السلام نه هغه کار کړی او نه دا بل.

۲- اسلام مونږ ته امر کړی چې لومړی به انقلاب راولو، غیراسلامي ټولنه به د جهاد له لارې په اسلامي ټولنې بدلوو او اقتدار به له ظالمانو نه صالح کسانو ته انتقالوو، خو د انقلاب له راتلو او د اسلامي ټولنې له جوړېدو وروسته به قدرت ته د رسېدو هره هڅه حرامه ګڼو، هلته به وسلې ته لاس کول او یا د زور او سازشونو له لارې

قدرت ته د رسېدو هڅه ناجائز ګڼو، اقتدار به د مسلمانانو امانت او دا به د خلکو حق ګڼو چي قدرت د خپلې خوښې صالح او اهل کس ته وسپاري، دلته به امیر د مسلمانانو په خوښه او د دوی د بیعت له لارې ټاکل کېږي.

**۳-** د امیر انتخاب د ټولنې د ټولو مسلمانانو کار دی نه د څو محدودو کسانو کار، دا ځکه چي خلفای راشدین په جومات کې غوره شوي، نه د تړلو دروازو تر شا او د څو کسانو په خوښه.

**۴-** د امارت لپاره له یوه نه زیات کسان هم نومول کېدی شي، داسې لکه چي عمر رضي اللّٰه عنه ونومول.

**۵-** که له یوه نه زیات کسان د امارت لپاره راوړاندې کړی شول، د استفتاء او د خلکو رأیي ته د مراجعي له لارې کولی شو د دوی له منځ نه هغه څوك غوره کړو چي د مسلمانانو اکثریت ئې د امارت لپاره اهل ګڼي.

**۶-** د امارت لپاره خاص مواصفات ټاکل شوي، "علم" او "قوت" ئې ترټولو مهم او اساسي مواصفات دي، په علم کې هره هغه پوهه راځي چي د یوه امیر لپاره ضروري ده، او په قوت کې جسمي روغوالی او سلامتیا هم شامل ده، د دغو مواصفاتو له مخې به اهل کسان نومول کېږي، خو د اهل کسانو له منځ نه د یوه انتخاب به د مسلمانانو د اکثریت په رأیه ترسره کېږي.

۷- دا ډېره عجيبه ده چي د دغو څرګندو نصوصو په موجوديت کي او په داسې حال کي چي د راشدينو خلفاوو د انتخاب څرنګوالی ئې په مخکي پروت دی، ځينې د امير ټاکنه د خواصو حق ګڼي او ادعا کوي چي خاص کسان به امير ټاکي او عام ولس به خامخا له هغه سره بيعت کوي!! دا هسي بې بنسټه ادعا ده چي له څرګندو اسلامي اصولو سره تصادم کوي، هيڅ په دين پوه انسان به داسي غلطه رأيه ورنه کړي. ځيني بيا تر دغو هم په جهالت کي مخکي درومي او ادعا کوي چي په اسلام کي امارت منصوصي يا موروثي دئ!! يوازې د علي او د ده د اولاد رضي الله عنهم مسلم حق دئ او وايي چي دوی د الله له لوري غوره شوي!! د دغو خلکو په عقل او ايمان ژړا پکار ده، ډېره عجيبه ده چي د څرګندو نصوصو په شته والي کي څوك د داسي غلطي خبري کولو جسارت کوي!! که دا خبره سمه وی نو لومړی خو به په قرآن کي حتماً په دې هکله صريح آيت راغلی وو، پېغمبر عليه السلام به خلکو ته په واضح الفاظو ويلي وو، صحابه وو به هغه د لومړي خليفه په حيث او د ده اولاد له ده نه وروسته د امراوو په حيث غوره کړي وو، علي رضي الله عنه به له مخکنيو خلفاوو سره بيعت نه کاوو او تر ټولو مهمه خبره دا چي په قرآن کي به دا آيت نه راتلو چي اې مسلمانانو! الله تاسو ته امر کوي چي د امارت امانت اهل ته وسپارئ، که امارت موروثي وی او امير د الله او پېغمبر له لوري غوره

کېدی نو مسلمانانو ته به ولې دا خبره کېده؟! او که موروثي وی نو میراث خو ورثه وو ته پرته له دې سپارل کېږي چي وګوري هغه ماشوم دی که ستر، هغه روغ دی که ناروغ، عقل لري که بې عقله دی، په میراث کې خو د اهلیت شرط نه شي وضع کېدی. آیا تاسو نه ګورئ چي د نړۍ په ظالمانه موروثي نظامونو کې دې خبرې ته ځوك نه ګوري چي د واکمن وارث د دې منصب اهل دی که نه، زوی، لور او ښځې ته ئې په میراث پاتې کېږي. د قرآن په لسهاوو آیتونه د اهل کتابو د دغې غلطې انګېرنې د تردید لپاره راغلی چي دوی په موروثي نظام او له پلار نه اولاد ته د مذهبي مقام او منزلت په انتقال باور درلود. شیعه وو مخکې د دولسو منصوصي امامانو خبره کوله، دولسم امام ئې هغه ځوك وو چي وایي په شپږ کلنۍ کې غائب شوی او اوس امام زمان دئ، خو وروسته ئې دیارلسم امام هم پرې اضافه کړ، خمیني ئې هم د امام په نامه ونومولو!! پیغمبر علیه السلام له څلوېښت کلنۍ وروسته امام شو، ابراهیم علیه السلام په ډېرو سترو سترو الهي آزمېښتونو کې له بریا وروسته امام شو، خو د دوی امام په شپږ کلنۍ کې!! په مسلمانانو کې د جهل او د اسلام له روح نه د بې خبرۍ په وجه د ټګمارو مذهبي مشرانو په لاس داسې مذهبي فرقې راپیدا شوې چې مذهبي او روحاني مقام موروثي توکی ګڼي!! د علي رضي الله عنه اولاد د امامت منصوصي وارثان ګڼي، هغه هم نه ټول

بلکې ځينې ئې او حتی په ماشومتوب او حتی په غيابت کې، هڅه ئې وکړه چې شمېر ئې دولسو ته ورسوي، د عيسی عليه السلام د دولسو حواريونو او د بني اسرائيلو د دولسو قبيلو له شمېر سره برابر، په دولسم ئې امامت ختم کړ، يو ورك شوی ماشوم ئې د غيابت د دوران امام وټاکو، وايي چې دا امام شپږ کلن ماشوم وو چې له خپله کوره غايب شو، نه ئې تر دې وخته د شهادت کلمه زده وه، نه ئې يو رکعت لمونځ کړی، نه ئې روژه نيولې، نه په قرآن پوهېدو، ... خو سره له دې د خلکو لارښود او امام شو!! امام او لارښود خو هغه چا ته وايي چې د خلکو مخې ته روان، په لمانځه کې ورته مخکې او په ژوند کې ئې لارښود وي، غايب کس ته د امام لقب کارول يوه مغالطه ده، الله تعالی به څنګه د خلکو لپاره غايب امام ټاکي؟!!

دا هم ډېره عجيبه ده چې ځينې وايي: د يو چا د امارت لپاره د پنځو کسانو بيعت هم کافي دی، که له ټول امت نه يوازې پنځه کسان او حتی يو کس له چا سره بيعت وکړي هغه مسلم امير دی او په ټولو ئې اطاعت واجب!! دا هسې مسخره او بې بنسټه خبري دي، هم د څرګندو نصوصو خلاف او هم د صحابه وو د منهج خلاف. دا خبرې يا هغه څوك کولی شي چې دا ټول حقايق له پامه وغورځوي او يا هغه چې د کوم دربار مفتي وي. دا ټګماران د عربي يوه اصطلاح د اهل حل و عقد په نامه داسې کاروي لکه چې دا د قرآن د کوم آيت او يا د

پیغمبر علیه السلام د کوم حدیث برخه وي او ادعا کوي چي د امیر ټاکنه د اهل حل و عقد دنده ده!! په داسي حال کي چي دا اصطلاح د اموي سلاطینو او امراوو د وخت زېږنده ده، نه په قرآن کي او نه په احادیثو کي د اهل حل و عقد اصطلاح او دا چي امیر به د دوی له لوري ټاکل کېږي څه نه مومو، نه په څرګندو الفاظو کي او نه تلویحاً، دا اصطلاح د اموي او عباسي حکومتونو پر مهال جوړه او رایج شوه، هغه مهال چي جابرو سلاطینو زعامت موروثي کړ، د زعیم انتخاب ئې د خپلي خوښي خواصو حق وبالو او بیعت ئې داسي شکلي مراسم چي د زعیم له ټاکلو وروسته ترسره کېږي، هغه مهال چي امراء به د جومات په ځای په قصرونو کي غوره کېدل او دا صریحاً د قرآن او سنت او د صحابه وو د منهج خلاف او یو کرکجن بدعت وو.

- طالبان خپل امیرالمؤمنین په دې دلیل شرعي امیر بولي چي د دوی د اقتدار پر مهال په کندهار کي د اهل حل و عقد یوې غونډې هغه ته د امیرالمؤمنین لقب ورکړ!! خو دوی به اوس دې خبري ته څه ځواب ورکوي چي د دوی هغه اهل حل و عقد چي په کندهار کي راغونډ کړی شول او ملامحمد عمر مجاهد ته ئې د امیرالمؤمنین لقب ورکړ اوس د دوی مطلق اکثریت، نږدې ۹۰% نوي په سلو کي د کرزي خوا ته ولاړ دي او هغه امیرالمؤمنین ګڼي؟!! د دغو اهل حل وعقد کومه فتوی سمه او شرعي ګڼي، مخکنۍ که اوسنۍ؟!! که د امیر انتخاب په

محدودو کسانو پورې مربوط شي تل به دا ترخه تجربه تکرارېږي، هرڅوك چې د اقتدار پر کرسۍ ناست وي يا تر نورو ډېرې پيسې ولري، دوی به اخلي او د خپلي خوښي فتواوي به پرې مهر کوي!!

ځيني داسي هم شته چي وايي: که څوك د زور او غلبې له لاري قدرت ته ورسېږي خو مسلمان وي نو د هغه اطاعت ضروري دئ او د هغه مخالفت ناروا!! دا خوارکيان په دې نه پوهېږي چي متغلب حکومت جائز ګڼل داسي دي لکه د اضطرار په وخت کي د خوګ غوښه جائز ګڼل، دې استثنائي حالت ته عموميت ورکول يوه کرکجنه مغالطه ده. دوی ته وايو: که دا د يوه اصل په توګه منئ نو بيا خو نن د متغلب مصداق کرزی دی نه ملامحمد عمر مجاهد او پرون ئې مصداق رباني وو!! ولي مو د دغو متغلبينو حکومت ونه منلو، موږ نه وايو چي ستاسو دا کار غلط دئ، برعکس وايو چي د متغلب حکومت جائز ګڼل غلطي ده. که دا د يوه اصل په توګه ومنل شي نو بيا خو به افغانستان د سوريې په برخليك اخته کېږي، د سوريې مطلق اکثريت مسلمانان او سنيان دي، خو يوه نامسلمانه او مشرکه اقليت ډله پرې حکومت کوي، دا ډله له شيعه وو سره نږدې اړيکي لري، پر افغانستان به هم دې ته ورته يو داسي اقليت د حکومت کولو مجال ترلاسه کوي چي ايران ئې مرسته کوي، ځينو شيعه ډلو په ايران کي حتی په خپلو نشراتو کي ليکل چي ايران بايد زموږ مرسته وکړي چي په افغانستان کي

د شیعه وو حکومت جوړ کړو، دا کار ئې ممکن ګڼلو او ویل ئې چې که په سوریه کې دا کار ممکن دئ نو په افغانستان کې ئې هم امکان شته!! ایران دا اوس لګیا دئ په کابل، هرات او مزار کې د شیعه وو لپاره ځمکې اخلي او منصوبه ئې دا ده چې د دغو مهمو ښارونو اکثریت استوګن شیعه کړي، دا خبره د ایران مسئولین په ډېر وقاحت او بې شرمۍ سره کوي او د عواقبو پروا ئې هم نلري، ګمان کوي چې دوی کولی شي اقلیتونه د پښتنو په ضد متحد کړي او په کابل کې د خپلي خوښي مزدور حکومت قدرت ته ورسوي.

- په مخکنیو آیتونو کې امارت د امانت په نامه یاد شوی، دا ښیي چې امارت یو الهي امانت دئ چې د خلکو له لوري امیر ته سپارل کېږي، امیر مکلف دئ په ټولو هغو صلاحیتونو او امانتونو کې چې د مسلمانانو له لوري ده ته سپارل کېږي د امانت د اصلي خاوندانو په مشوره تصرف وکړي، هیڅوك د چا په امانت کې د امانت ورکوونکي له موافقې پرته د تصرف حق نلري او اسلام داسې تصرف په امانت کې خیانت ګڼي.

- له دې حکم څخه چې د امیر او خلکو ترمنځ اختلافي قضایا به قرآن او سنت ته راجع کېږي، دا حقیقت په ډاګه معلومېږي چې امیر په مشوره مکلف دی، د اختلاف په صورت کې ده ته د وروستۍ پرېکړې حق نه دی ورکړی شوی، وروستۍ فیصله به د قرآن او سنت

له مخې کېږي. او همدا پر الله او د آخرت پر ورځې د ایمان تقاضاء ګڼل شوې.

که د دغو حقایقو په رڼا کې د کابل د امریکایي حکومت او د طالبانو اساسي قوانین وڅېړو نو په ډېر جرأت سره ویلی شو چې دا دواړه قوانین نه یوازې ناقص دي او ګڼ شمېر عیبونه لري بلکې د اسلام له ډېرو اساسي غوښتنو سره تعارض لري، په دې سره نه یو خپلواک او آزاد اسلامي هېواد جوړېدی شي، نه د اقتدار پر سر د شخړو او جګړو مخنیوی کېدی شي او نه د استبدادي او مطلق العنانو حکومتونو د رامنځته کېدو امکانات له منځه تلی شي. د دې په مقابل کې د اسلامي دولت اساسي قانون هم د یوې واقعي اسلامي ټولني د جوړېدو ضمانت کولی شي، هم د اقتدار پر سر د شخړو او جګړو مخنیوی کولی شي او هم د مطلق العنان او استبدادي نظامونو د رامنځته کېدو ټول امکانات له منځه وړی شي.

زه د طالبانو په شمول ټولو هغو افغانانو ته چې د جګړې فوري او دائمي خاتمه، ډاډمن او تلپاتې امنیت او په خپلواك او آزاد افغانستان کې د یوه واقعي اسلامي حکومت قائمېدل غواړي، بلنه ورکوم چې راشئ دغه اساسي قانون ومنئ، هغه قوانین شا ته وغورځوئ چې نه زموږ د ټولني له دیني او مذهبي ارزښتونو سره او نه ئې له اجتماعي جوړښت او ظروفو سره مطابقت لري، راشئ د دې

اساسي قانون له لاري د هېواد دردوونکی بحران پای ته ورسوو، که پر دې اساسي قانون ملاحظات لرئ راشئ یوه داسي باصلاحیته هیئت ته ئې وسپارو چي له خدای پالو، متقي، په دین پوه او زړه سواندو شخصیتونو څخه جوړ شوی وي او د دې هیئت پرېکړي ته غاړه کېږدو.

اللّٰهم إني دعوتهم إلى صراطك المستقیم اللّٰهم فاشهد

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸٦\۸\۱۳

# د طالبانو

# او د کابل د حکومت

# د اساسي قوانینو

# په اړه علمي او دقیق بحث